**دې پاکې مينې آنجام**

**ليکوال: شعيب** ^الکوزی^

احمد د کلي يو ځوان و، تل يې سترګې د ښار او پوهنتون په لور وې. کله چې د امتحان په زور پوهنتون ته بريالی شو، زړه يې د خوښۍ نه په درزا شو. د زده‌کړې د لوړو هيلو او د راتلونکي د خوړو خوبونو سره د ښار لور ته روان شو.

په لومړيو ورځو کې هر څه نوي او خوږ ورته ښکارېدل. د پوهنتون چاپېريال، د ملګرو خنداګانې، او د استادانو خبرې. خو ډېر ژر يې د صنف يوې انجلۍ – ليلا – سترګې پرې ولګېدې. هغه انجلۍ چې ټولګيوال به پرې ټوکې او پسخن کاوه. احمد هم کله کله د ملګرو سره د هغې په اړه وخندل، خو د وخت په تېرېدو کې هغه خندا په يوې ناآشنا مينې واوښته.

هغه خنداګانې ورو ورو د زړه ټکانونه شول. احمد ځان ته حيران و، ولې پر هغې مين کېږي چې هېڅ باور نه لري؟ خو زړه يې د منلو نه و.

ليلا د احمد د مينې نه خبر شوه، خو د نرم ځواب پر ځای يې هغه ته سړې خبرې کولې. کله کله به يې په سپکه خبره ټکوه، کله کله به يې په سترګو کې بې‌پروايي اچوله. خو احمد هر ځل د هغې د يوه مسکا په هيله پاتې کېده.

ورو ورو احمد د ژوند له رنګونو لېرې شو. د شپې به يې خوب نه راتله، د ورځې به يې درس نه لوستل کېده. بدن يې کمزوری کېده، او روح يې د نه ختمېدونکي انتظار په اور کې سوځېده.

ډاکترانو وويل: «هغه ناروغ دی، خو اصلي درد يې د زړه دی.» ملګرو يې ويل: «احمد د مينې قرباني شو.» او بالاخره يوه شپه يې ساه ورو ورو ودرېده.

ليلا چې خبر شوه، زړه يې ولړزېد. د احمد يادونه لکه توره سيوری ورسره تلله. د هغه د پاکې مينې د ناديده نيولو پښېمانه شوه، خو نور ناوخته و. نه يې خندا پاتې وه، نه يې سکون. د ورځې به يې سترګې ډکې وې، د شپې به يې وجدان راوېښ و.

Ketabton.com

او داسې د يوې مينې کيسه، چې د خندا له ټوکو پيل شوه، د اوښکو او درد په پای تمامه شوه.

**پايله :**

مينه هغه اور دی چې که په باور او رښتينولۍ کې نه وي، دواړه لوري سوځوي. احمد په خپله رښتينې مينه کې ځان له لاسه ورکړ، خو ليلا د هغه د احساساتو په سپک ګڼلو سره داسې ټپي شوه چې د ټول عمر لپاره يې د زړه سکون له منځه ولاړ.

دا کيسه موږ ته دا ښوونه کوي چې د بل انسان احساسات هېڅکله د ټوکو او خندا موضوع نه شي کېدای. ځکه چې زړونه نازک دي، او د يو ساده بې‌پروايي قيمت کله کله د يوه ژوند په ختمېدو او د بل د وجدان په تلپاتې ځور کې تمامېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**